مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبد الغفور لېوال

۲۰۲۰/۱۲/۰۷

# انسان روزنه

روزنپوهنه (پیداګوژي)، اروا‌پوهنه، ټولنپوهنه او بشرپوهنه یې راته وایي، چې:
غوره ده، د کوشنیو ماشومانو روزونکې او ښوونکې مېرمنې وي، چې ماشوم ته د مورولۍ عاطفه ورکړلای شي.
له کورنۍ او مور څخه و ټولنې ته د ورتګ لومړۍ لاربنوده، که یوه مهربانه مېرمن وي، نو ماشوم به په سالم او عاطفي رواني چاپېریال کې وروزل شي.
د داسې ماشوم روزنې پایله یوه تولیدي، اخلاقي، فعاله، قانونمنده، عاطفي، انساني، هوښیاره، زړوره او نوښتګره ټولنه ده.
د کوشنې ماشوم لپاره لومړۍ روزنه او بیا ورو ورو ښوونه پیلیږي، د هغه له راالوېیدو سره سمه د روزنې برخه کوشنۍ کېږي او پرځای یې د ښوونې ونډه و برخه ورزیاتیږي.
موږ (افغانان) چې ماشومان ښوونځیو ته لېږو، هدف مو د هغه روزنه نه وي، غواړو ښوونځي ته ولاړ شي، شهادتنامه واخلي، په دولت کې مامور شي او موږ ته تنخواه راوړي.
موږ ملامت نه یو. زموږ داسې ناسمه روزنه زموږ په تاریخي محرومیت، بېوزلۍ او ولږه کې ریښې لري.
**هو، ښایي موږ به ښه مامورین او جګړه ماران روزو، خو سم «انسانان» روزلای نه شو، که نه دومره به مو یو بل نه سره وژلای.**




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ